


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



عبدالحفیظ « ملیار ـ ساپی »

د نشرنیټه : 1 جون 2023 میلادی

# د کلي مزي!

توتان شو ملې د کلي
سابه مستي د کلي
د تناره ډوډی مو
ګرمي ، پستي د کلي
له وچ سکرک نه يې ځار
تودې اوربړې د کلي
دوړکتوب وختونه
دا خاطرې د کلي
هغه ختین کورونه
تنګې کوڅې د کلي
په کې اوبه رواني
ورې ویالي د کلي
د بام پر سر خوبونه
داورې شپې د کلي
زه او پښتون کلیوال
خوږې کیسې د کلي
الله نظر او رباب
غزل ، ټپې د کلي
دڅنار لاندې دمه
ګرمي غرمي دکلی
شور د چڼچڼو ماښام
شور او نغمې د کلي
د نارنج ګل عطرونه
سحر ورمې د کلي

سهار چرگ بانگ په وخت کې
د چرگ نارې د کلي
ملیاره غیرړه د مور
هغه شیبې د کلي
په اروپا کې نه شته
هغه مزې د کلي

***

عبدالحفیظ « ملیار »

www.said-afghani.org - بازگشت به صفحه اصلی